د نظر غشی

د رحمت شاه سایل د شعرونو منتخب

تدوین او سریزه
د
افضل تکور

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د نظر غشی

تدوین او سریزه

د

افضل تیکور

PROPERTY OF
ACKU
9963

دسرحدونو چارو وزارت

دنشراتو اوفرهنگی چارو ریاست

۱۳۶۷

د کتاب نوم : د نظر غشی

د چاپ کال : ۱۳۶۷

د چاپ شمیر : (۳۰۰۰) توکه

د چاپ ځای : د آریانا مطبعه

رحمت‌شاه‌سایل
او
د هغه شاعـــری

دزړه در زانه به نغمی‌دانقـلا ب‌جوړوم
ستاد ظلمو نو کیسونه به کتا ب‌جو ړوم
حلالوی چی می‌په پټه خو له پـه پخو چړو
دغه نظام‌ته به‌د خپل‌خان نه‌قصاب جوړ وم

«سایل»

په پښتومعاصر و ادبیا تو کـــی‌او دپښتو په‌معاصر شعری بهیر کی درحمت شاه سایل نوم دیوه ښـــه اوخوږ ژبی او ناز کخیاله شا عـــر په‌عنوان زیات شهرت لری. درحمت‌شاه سایل شاعری دپښتو دمعاصر ی شاعری یوه لویه اوله ښایست نه‌ډکه برخه ده. زه‌به په دغـــــه سریزه کی دپښتو ژبی ددغـــــــه انقلابی او اور ژبی شاعر پرژونـــد اوشعری آثارو خبری وکړم :

ـ ژوند او زده کړه :

رحمت شاه سایل دامین کـــــل‌زوی دی .په «۱۹۵۰» عیســـــوی کال کی دپیښور دملاکند ایجنســـی‌ددرگی دسیمی د«ور تیر» په کلـــی کی زیږ یدلی دی. لومړنی زده‌کړی‌یی‌ترخلورم تولگی پوری په‌خپـــل کلی وکړلی .او دځینومشکلا تو له‌مخی ور څخه نوری‌زده کړی پاتی شوی .هغه فطرتی طور هو ښیـار ،ذهین او قابل و. «ا» غوښتل یـــی چی‌دتعلیما فته کسانو په کتـا رکی‌راشی .خوله بده مرغه څه دغربـت دلاسه او څه دناساز گاره حالاتـــو له‌کبله یی وړاندی سبق‌ونه ویلـی شو. خوپه لیك‌لوست ښه پوهیږی .

دپښتو ژبی‌دغه خوږ ژبی شاعرځه دغربت دلاشه او څه د حالاتو په وجه دځلو رم‌تولگی نه زیاتی زده کړی ونه کړلی اوهغه دلیکوال خبره دتعلیم‌یافته کسانو په کتار کی رانه غلو. خودخپل فن اودخپلی نازکخیالی‌شاعري په‌وجه هغه‌دپښتو دمعاصر وشاعرانو په لومړی کتار کی‌ولاړدی .اودهغه شاعری دپښتو دمعاصری شاعری مخکښی ښیلگی‌دی. دپښتو ژبی یو لیکوال اومحقق درحمت شاه سایل د شاعری‌په هکله لیکی :

«هغه یو بیدارمغز حساس شاعردی.اول دمعاشری په هر لوری خپل ژور نظر زغلوی پس له هغی داصلاح تاباکوی . ښاغلی سایل دیوی خوار یکښی طبقی‌سره ټرون لری ځکه ورته په عملی طور دلمر او سیوری اندازه لگیدلی‌ده. اوهم له دی کبله یی دغریب اولس په حالت زړه او حالت‌دواړه‌ژوبل ژوبل ښکاری .خوبیا هم‌دخپلی خود داری اوبی باکی له لاسه چپ نه پاتی کیږی . هرهغه واردات چی په مشاهده کی مخی‌له‌ورشی بغیر دځه ویری تر هی دهغی اظهار فرض منصبی‌گنبی.خوکه دهغی په ویلو کی ورته هر څومره خنډان هم په لاره کی راشی خودسر اومال نه پری تیرپږی...»«۲»

درحمت شاه سایل شاعری‌هم‌دمحتواله مخی او هم‌دفورم له‌مخی ډیری زیاتی‌ښکلاوی لری‌هغه که دپښتو په زاړه فورم کی‌شاعری کوی هم داسی مسایل پکی بیانو ی‌چی‌دبیان ضرورت یی وی .په‌غزل کی‌هغه دوخت اوزمانی ډیرعمده‌او اساسی مسایل په ډیر هنری انداز سره بیا نوی . او دپښتودشاعری په زاړه فورم کی دهغه هرځه نوی نوی ښکاری .دسایل‌غزلیزه شاعری زمونږ دمعاصر غزلیز بهیر یوه له‌ښایست نه‌ډکه برخه جوړوی .دهغه غزل‌زمونږ دمعاصر غزل لوړی او پیاوړی بیلگی‌دی.دلته به دهغه دیوه غزل څو بیتونه دبیلگی په ډول ولولو .اووبه گورو چی هغه په غزل‌کی څنگه دخپل ارمان اوخپل احساس بیان کړی دی .

په‌شونډو کی ښیری په‌اننگو کی‌دعا گانی
قبولی خودی‌خدای‌کړی په‌ښیرو کی‌دعا گانی

ملګری که دتلو نکو لیونو سر ه جانانه
دژوند دځوانی مرګو حادثو کـــی رقیبا نو

څه وکړم چی اورنه اخلی مالـتد دعا ګانی
مانغښتی کله نه دی په لمبو کی دعا ګانی ....

او داسی دهغه هرغزل اودهغـــه دهرغزل هر بیت ځانته ځانتـــــه مفاهیم لری اودهغه دشاعری په هر بیت دپیری خبری کیدی شی. دهغـه نظم یوځل بیاپه پښتو معاصر شعر ی بهیرکی نظم په خپل معاصر مفهـــوم سره راژوندی کړ. نظم دپښتـــــودشاعری یو بیل فورم دی چـی دغزل نه مخکی یی په پښتو معاصرو ادبیاتو کی خپل دښایست اونوښت دورتیـر کړی دی .په پښتو معاصـــــــره شاعری ناظمان دیر کم دی خـــو دسایل کوم نظمو نه چی تر او ســه هغه لیکلی دی.نود هغـــــــی نښداری ته به هر لوستو نکـــــی ارو مرو تم کیږی. سایل پـــــه نظم کی نوی تجربه وکړه. نـــوی مسایل یی په کی ورداخـــــل کړل او په نوی انداز سره یـــــی نظمونه ولیکل .زه به دخپلـــــو خبرو دثبوت له پاره یوازی دهغـه ددوه نظمونو دپیل برخی راوړم .که څه هم دغه نظمونه ماپه دی منتخب کی نه دی راوړی او وجه یـــــی داده چی په مکمل طور سره زمـــــالاسته نه دی راغلی خو یو نظـــم یی ماپه نا مکمل ډول راوړی دی.اودلته یی یادونه ضروری بولم.دسایل دیوه نظم پیل داسی دی .

مادر ته ټول عمر دګلونو بښـــار ویلی دی
کله می پیرزو شی په بمو نـــو پیښوره

ستا تصویرمی تل دزړه په وران کورکی ساتلی دی
کله می پیر زو شی په لمبونـو پیښوره ....

یا لکه دا نظم چی وایی :

مانه جانان غوښتی سپوروځنو ته ګلونه پسر لیه
کله خو زمونږ په کلی هم راپیښه وکړه

مانه یی په وچو شوندوویر کړی سوا لو نه پسر لیه کله خوزمونږ په کلی هم‌راپیښه وکړه ...

اوداسی دهغه ټول نظمو نه چی کله لولو نومونږ ته یوځل بیا په پښتو شعر کی دنظم دعظمت تکی بنکاره شی .دپښتو ژبی دغه ناز کخیاله شاعر دخپل‌ادبی‌عمر په دغه لنډه موده کی یو زیات شمیر ارز ښتمن شعری آثار کښلی‌دی.چی دپښتو په معاصرو ادبیاتوکی دتلپاتو آثارو حیثت لری .اودپښتوژبه به تل ورته دقدر په سترګو گوری.اوزمونږداوسنی شاعری‌پانګه به پری درنه وی. دلته به دسایل دشعری آثارو لنډه یادونه وکړو .

ریبار :

دا د رحمت شاه سا یل‌دشعرونو لومړنی چاپی مجمو عه ده.چی غالباً به ۱۹٦۸ او ۱۹٦۹ عیسوی کال په پیښور کی چاپ شوی وی .ماته تراوسه پوری په دقیق ډول ددغی مجموعی دچاپ کال نه دی معلوم شوی.خوپه دغه شعری‌جونګ کی دشاعر دزلمیتوب او دهغه دشاعری‌دلومړ نیو ورځوشعرو نه چاپ اوخپاره شوی دی. اودهغه وخت‌حالات اوپیښی‌په کی بیان شوی‌دی .

سره بڅری : ـ دا د رحمت شاه سا یل د شعرو نو او غزلو دو همه چاپی مجموعه ده.دغه شعری مجموعه په ۱۹۷۰ عیسوی کال کی هغه وخت چی سایل شل کلن وو په پیښور کی چاپ‌او خپره‌شوی ده .په دغه شعری مجموعه کی دشاعریواز ی انقلابی غزلی اوشعرونه راغلی دی.چی دپښتو په معاصرو ادبیاتو کی اودپښتو په معاصر شعری بهیرکی‌یی‌دانقلابی شعر یوه په زړه پوری برخه بللی شو .

دویر په چم کی واردنغمو دی:ـ دادرحمت شاه سایل دشعرو نو دریمه چاپی مجموعه ده.چی دنامه سره‌یی دپښتو دمعاصر شعری بهیر زیات مینه وال اشنادی .دسایل‌دشعرونو دغه مجمو عه په ۱۹۷۸ عیسوی کال کی په پیښورکی‌په بنکلی قطع‌اوصحافت چاپ اوخپره شوی ده .په دغه شعری مجموعه کی‌دشاعر،څه دپاسه یوسلواوه څلویښت شعرونه نظمونه ، غزلی‌اوقطعی راغلی دی چی تول

۱۷٤ مخونه لری .ددغی مجمو عـــی په سرکی د «احساس عا جـــزی» تر سر لیك لاندی خپله دسایل خبری راغلی دی. هغه په خپلو دغـــو خبروکی دخپلی شاعری په بـــاب وایی :

«... زماشاعری څه «داد» یـــا «بی داد» نه لټوی .بلکه دازمـــا دژوبلو احساساتو اظهار دی. اوپـه غوڅه ژبه دژوند کیسه ده.زه نـــه یم خبر چی مافنی لوازمات ترڅو مر ه حده پوری پوره کړی دی.او داهـــم نه شم ویلی چی مادژوند ون دناو ی دمخ نه ترکومه حده پوری پلوپورته کړی دی. زه داګنم چی دیـــوی اوږدی نو آباد یاتی غلامـــی تاریخ او دنوی نوآبادی غلبـــی دریځ وهلی انسان ذهنی طوربانډی او رومانی طور باندی تړی دی ....هرکله چی سړی ددغه صـــورت حال احساس وکړی نوددی درنـــی ذمه واری په مخکی دفن عاجـــزی څرګنده شی .زما شاعری هـــم ددغه شان «عا جز فن» یـــوه چغه ده. په کومه خاوره چـــی ماخړپوسی کړی دی .کوشش مـــی کړی دی چی د هغـــی دزړه درزاواورم ،» «۳»

ددغی شعری مجمو عی تـــړون شاعر داسی کړی دی .«دهغـــو انقلابی شازلمو په نوم څوك چـــی ویرونه په نغمو بدلول غواړی .»

د«ویر په چم کی واردنغمودی » په شعری مجموعه کی چی کوم شعرونه راغلی دی له هغی نه دسایـل دلوړخیال او دژوبل زړه چغی په ډاګـه اوریدلی شو. ددغی مجمو عـــی ټول شعرونه دپښتو داوسنی شعـر ښی اولوړی بیلګی دی. ددغـــی مجموعی په خپریدو په ټولـــه پښتونخوا کی دسایل شهرت لاپسی زیات شوی دی. او دسایل دفـــن ښه هنداره یی بللی شو .

ـدلمبو په سیـــــوری : ـ

دادپښتو ژبی ددغه ناز کخیالـــه اوانقلابی شاعر دشعرو نو څلور مـــه او وروستی مجمو عه ده. چـــی دشعر او ادب مینه والوته یـــی وړاندی کړی ده. دغه شعری مجموعه په ۱۹۸۵ عیسوی کال کی دپیښـــور په حمید یه پریس کی په بنکلـــی قطع او صحافت دزړو ټوکو په شمیر چاپ شوی ده.دغه اثر ټـول «۱۵۲» مخونه لری او دشاعر څه دپاســـه سل ټوټی شعرونه په کی راغلـــی دی.ددغه کتاب په سر کی دپښتـو دمعاصرشاعر سعداله جان برق یوه سریـــزه هم راغلی ده چی دسایـل دشعر اوشاعری په هکله یـــی په کی یولړ ګټوری خبری کړی دی.«٤»

دغه شعری مجموعه سایل داسی اهدا کړی ده.«ترون :دهغو دریو پښتنو شا عرا نوپه نوم دچا په غزل‌چی هم ژوند نازیدلی شی ،هم پښتو اوپښتون شمس القمراندیش،دفن ددر خو هغه ادم چی نغمی‌یی ژوندی هم دی او پښتنی هم ،هغه دحالاتو دترخو خوړو په چل هم پوهیږی . خواږه‌هم خوری خو دغزل‌خواږه دمحبت له کوره ،اکرام الله گران .دچاپه غزل چی‌یوازی دجیندی‌غاړه مسته نه‌ده ، ټول وطن پر ی مست دی دنوی دور نوی غزل پری‌مست‌دی .خاطر اپریدی . دچا غزل چی‌لکه دلوی خیبر دعظمت په شان په ټول وطن خوردی .په مینه او ښایست کی‌لړلی غزل،دلویوورونرو ښځو په خوله غزل .

ته خو به کمخی‌دزلفو جوړ ی‌کړی ـ
زه په‌دی شلیدلی گریوان څه وکړم.»

ـ فیصله :

دا د پښتو ژبی د دغه وتلی شاعر یو اوږد نظم دی.چی دیوی رسالی په توگه دپښتون ستودنس له خوا چاپ او خپور شوی دی .دد غه اثر دچا پ‌کال نه دی معلوم .

تپوس :ـ

دا د رحمت شاه سا یل‌یوبل اوږ دنظم دی چی دغه نظم هم‌دملکند دادبی جرگی له خوادیوی‌رسالی په توگه چاپ اوخپور شو ی او د چاپ کال یی‌معلوم نه دی . له دی نه علاوه زمادمعلوما تو له‌مخی دسایل‌دشعرونو بله مجموعه چی د«ښایستونو پسرلی »نو مینږ ی‌هم چاپ ته تیاره ده. اوکیدا ی شی چی اوس‌چاپ شوی وی.خولازموږ لاس ته نه‌ده رارسید لی. نویوازی یادونه یی ضرور ده‌چی‌باید شوی وی .

درحمت شاه سا یل د شا عری‌دمحتوا په هکله‌که څه وایو اویاخبری کوو. نودټولونه وړاندی‌دهغه په شاعری کی دپښتو نولی بیان زیات شوی دی. که‌څه هم‌دپښتو په معاصره شاعری کی دپښتو او پښتونو لی مسایل‌دټولونه زیات استاد حمزه شینواری بیان کړی دی .استاد حمزه دلومړ ی‌ځل له پاره په پښتو شعر کی پښتو اوپښتو نو لی،ننگ او غیرت،پښتنی سترگی ،پښتانه بانه ،

پښتنی زلفی ، پښتنی ورو ځـــی پښتنی ښکلا او پښتنی خویو نـــه بیان کړل او دپښتونورو معاصـــروشاعرانو له هغه نه وروســـته دغه پښتانه ترکیبو نه په خپلـــو شعرونو کی په داسی ډول راوړلچی ښایست او ښکلایی لاپسی زیاته شوه.دپښتو ژبی یو محقق داســـتاد حمزه شینواری په شاعری کـــی دپښتو دترکیبونو په هکله لیکـی :

«...دحمزه شاعرانه و جـــدا ناودغزل نه جوړ طبعت هیڅکلـــه دانه شوه منلی چی دپښتو غزل لمن دومره تنگه اولنډه وګنی چی پـــه کی دی دخپلوملی احساسا تواوجذباتو ترجمانی هم نه شی کیدی .هغـــه دیومخلص پښتون شاعر پـــــه حیث داخپله ادبی وظیفه وګڼلـــه چی هغه دخوشال خان او علیخـــان په اساس دیوه داسی نوی اوسپیڅلی غزل مانی پورته کوی چی پـــــه کی هره خبنته دپښتونخوا دخپلـــو خټو او لوڅونه جوړه شوی وی.»«۵»

دپښتو دمعاصر غزل دپـــــلارابوالمرا دحمزه شینواری په اغیـــز دپښتو ژبی معاصرو شاعرا نو پـــه خپلو شعری آثاروکی پښتـــــو او پښتونولی داسی بیان کړل چی دپښتودغزل مانی یی لاپسی ښکلی کړه . په دغو شاعرانو کی درحمـــــت شاه سایل نوم دخاصی یادو نـی وړدی . رحمت شاه سایل هم داستـــــا دحمزه شینواری غوندی په خپلـــه غزلیزه شاعری کی دګل، بلبـــل،وصال ،هجران ،زلفی، کوڅی،خـزان اوپسرلی پرځای پښتانه ترکیبونـه لکه ننګ،غیرت ، میړانه ،پښتا نه لوظونه ، پښتنی خو یونـــــه ،جرګی ،ګیلی ، اودپښتنو دژونـــد ډیرارخو نه په ډیره هنر ی ژبـــه بیان کړل. دسایل دشعرو نوداسـی ډیری بیلګی شته دی چی هغـــه په کی پښتواو پښتونولی په ډیـــر اوچت اندازسره بیان کـــــړ ی ده وګوری .

زماپه دواړو اوږو ناســـتـــــوپرپښتو ولیکی ـ
زما په سر که څه لیکی نو پـه پښتو و لیکـــی

دآزادی علمبر دار و دنـــــړ ی قا مـــــو نو
اوس دنړی نقشه کی کـــــوردپښتنو ولیکی «٦»

اوپه پښتو اوپښتونولی خو بیـــادومره مین دی چی دخپلـــــی پښتو دپوره کولو له پاره اودپښتون ارمان دسرته رسیدلو له پـــــاره

په خپل ټوټی ټو ټی کچکـــــو ل‌پتری وهی او خیر دپښتنونه دپښتو له پاره غواړی یوازی دپښتـــــواوپښتنو له پاره .او داهیلـــــه ورسره ده چی په دغه کچکـــــول کی‌دپښتنو دژوند او آزادی دلاسته راوړ لوله پاره خیر وغواړی.هغـه خیراو خیرات نه چی کوم ملنـــگ او فقیر یی دخپل ژوند دتیرو لو له پاره غواړی .سایل که خیر غـواړی نودپښتنونله پاره یی غواړی اوهغـه که کچکول غاړی ته اچوی نوهـم دپښتو اوپښتنو له پاره یی اچـوی.اوهرڅه هرڅه یوازی اویـــوازی دپښتنو له پاره غواړی .وگوری :

بیاوهم پتری سایل په خپـــــل‌ټوټی ټوټی کچکول خپرد پښتنو نه دپښتو لـــه پاره غواړ مـــه «۷»

او دارنگه دسایل دشعر ډیـــری‌نمونی لیدلی شو چی دهغـــــــه دپښتونولی داحساس ښه نماینده‌گی‌کولی شی .اودپښتواو پښتنوستاینه په‌کی ډیره‌په هنری ژبه شوی‌ده .

درحمت شاه سایل په شاعـــــری‌کی چی کوم‌بل ټکی دلوستو نکـــــی له پاره دپام وړدی هغه انســـــان‌اودانسان سره مینه ده .دهغه پـــه ټوله شاعری کی دانسان دوستـــــی‌ارمان په ټوپونودی . دسایل پـــــه شعر کی دانسان او انسانیت مقـام،دانسان حق او آزادی ،او نـــــور انسانی خصلتونه ډیر لیدلـــــــی‌شو. هغه انسان غواړی او انسانـی ټولنه هغه دانسان پسی گرځـــــی‌اودانسان سره مینه کوی .اودیـوی انسانی ټولنی سره مینه لری.هغـه په شعر کی اوهم په عمل کـــــی دیوی انسانی ټولنی طرفدار دی.یـو پوه‌لیکی :

«ددیو جانس کلبی متعلق داخبره‌ډیره مشهوره ده چی هغه بـــــه په‌رڼا ورځ کی‌ډیوه په‌لاس‌گرځید ه‌او دیونان خلکو به‌هغه یولیو نـــی حکیم گانه .نوپه دی هکلـــــه هغه نه‌چاتپوس وکړ. چی ته پـــــه رڼاورځ کی دا ډیوه دکوم غـــر ض‌له پاره گرځوی . هغه ورته وویل: «انسان گورم» ولی چی کله هغـوی‌ته ځواب ور نکړی شوچی دا دومـره ډلی مخلوق تاته نه ښکاری‌نـــــوهغه ځواب ورکړ .داتـــــــو ل دلاندی درجی مخلوق دی. دوی کـی‌سړی یو هم نه شته .» «۸»

په دی ډول سایل هم دیـــــوه‌کامل انسان‌په لټون دی هغـــــــه په‌ډاگه وایی چی په‌دغه نړی کـــی‌دروغ او رنځور ترمنځ ددارا اونادار

ترمنځ ،دحاکم اومحکوم ترمنځ ،دحق او ناحق ترمنځ ، ددرو غو اورښتیا وترمنځ ،دتور اودسپین ترمنځ چی کوم تضاد موجود دی ،هغه نه پخلاکیدو نکی دی . او هغه نه یوځای کیږی :

نه کیږ دروغ او درنځور یارانه کیږی
یاره دشته من او دمجبور یارانه نه کیږی

ستا دغه ښکلا زما دلیل‌ددی‌خبری‌دی
هیڅکله دروغ او درنځوریارانه نه کیږی

ستا خبری سپینی دی‌زما خبری‌دی
یاره دجنون او دشعور یارانه نه کیږی

رحمت شاه سایل څنګه چی‌مخکی مو وویل چی دیوی خواریکښی طبقی سره تعلق لری .داډول‌هغه دنړی دتولو خوار یکښو او دتیټی طبقی دانسانانو سره مینه لری.دنړی په هرمظلوم انسان‌چی ظلم وشی نودی پری دلته خپه شی اودنړی دهر زیار ایستونکی له ستر گو چی اوښکی توی شی.نوبی واره دده له ستر گو نم‌راشی .په نړی کی چی‌هرچاظلم کړی دی نوده دظلم په وړاندی‌دکرکی اونفرت چغه پورته کړی ده. اودخپل وطن اودنړی دبل هرګوټ ظالم ورته یوشان‌ښکاره شوی دی .او دده دلاری‌اوده دوطن دآزادی هر ملګری چی‌یابندی شوی او یاهم دظالما نو له خوا دخپل حق‌او آزادی په جرم په شهادت رسو لی شوی‌نو سایل پری اوښکی توی کړی دی .سایل پری شعروٴنه لیکلی دی اوسایل پری دیوه ریښتنی انسان په توګه خپه شوی دی. اوکه داسی نه وی نوهغه به ولی دفلسطین‌دیوی شهیدی مبارزی جمیلی ته نظم لیکلو .هغه به‌ولی دپاکستان‌دزیار ایستونکو اودحق‌اوآزادی‌دلاری شهید حسن ناصر په نوم نظمو نه لیکل ،هغه به ولی دهیرو شیما ، فلسطین او ویتنام دخلکو مبارزو ته دعقیدت ګلونه وړاندی کول .اوداسی نوری دیری پیښی شوی دی چی‌دسایل دستر گو نه اودسایل دفنکار قلم نه وینی څڅیدلی دی ،اوپه وینو الوانی شعرو نه یی لیکلی دی .یعنی دسایل‌فن دسایل شاعری‌او دسایل غږدهغه داولس دهغه دخلکو‌اودهغه دتولو زیار ایستو نکو

فن ، شاعری او غږ دی. هغه په دی ښه پوهیږی چی دنړی دټولو مظلومانو او دنړی دټو لوزیار ایستو نکو ارمان او هیله یوه ده .ځکه خوایی :

دځلور کنجه دنیاپه هر یوگټ کی۔
چی غټان دی رآز یی یواستاذ یی یودی
مظلومان که دمشرق که دمغرب دی
ژوند یی یودیژواك یی یوآوازیی یودی
ماشومان که د مشرق که دمغرب دی
دژړا او دخندا انداز یی یودی «۹»

وایی چی شاعر په ذاتی طور حسن پرست وی .دمینی پیغام وړو نکی وی. شاعر چی په ټولنه کی څه وینی اویاځه اوری او یادمعاشری نابرابری اوناخوالی وینی نوزړه یی ودر دیږی .او چی په ټولنه کی دنابرابر یو نه په تنګشی نودهغو حالاتو بیان کوی .خو دغه بیان دحسن او دښکلا په ژبه اودمینی او دخلوص په ژبه ددغو ناوړه شرایطوغندنه کوی .اودسایل ټوله شاعری دحسن ،مینی خلو ص اوښکلانه ډکه ده. دهغه هنردژوندله پاره غواړی ،نه هنر دهنر له پاره. هغه که دظلم په وړاندی دکرکی او نفرت چغه پورته کوی، نوهغه که دخپلی طبقی آزاد ی غواړی او هغه که دیوه نظام بدلول غواړی .خودا هرڅه په ډیره هنری ژبه بیانوی .او په داسی اندازکی یی بیانوی چی دلوستونکی په زړه اواحساس اغیزه وکړی. دپښتو ژبی معاصر شاعر اولیکوا ل سعداله جان برق دسایل دکتاب «دلمبو په سیوری» په سریزه کی دغی خبری ته داسی اشاره کړی ده .هغه په خپله مقدمه کی لیکی :

«دحسن او معیار دواړو یوځای کیدل عامه خبره نه ده .خا ص خبره ده .عام خوداده چی گل رنګ لری نو خوشبوی نه لری ،او چی خوشبوی ولری نوبیایی رنګ نه وی. اوچی کله رنګ او خوشبوی دواړه راجمع شی نو بیا ګلاب شی .او ګلاب هریو ګل نه وی . اولکه چی هریو ګل ګلاب نه وی نودغسی هر شاعر سایل نه وی .سایل ته که موږ پسخیږ و نوهم په دی چی آوازیی سبحان الله اوشعر یی جزاك الله دی .دسایل شعر اوآواز چی په خپلو کی سره دومره

لازم اوملزوم دی. نودهغـــــی همدا وجه ده. دده په شعر کـــی چی دوخت دزړه چاو دون دردونـو، ارما نونو ،او حسرتونو کوم زبیرگی دی. دده آواز قطعی داسی بنکار ی لکه چی دهغی صوتی شکل وی .لکه څه رنگ‌چی یی شعرو نونه وینـــی‌څاخی دغسی یی داواز نه هم وینـی څاخی .او داځکه چی ددغـــــه دواړو سر چینه یعنی دسایـــل فکر هم په وینو الوانی دی .سایل‌چی په ترنم خپل کلام وایـــــی نوزه اکثرداسی محسو ســـــوم‌چی لکه دده په زړه کی‌چاخنجر بنـــخ کړی وی اوهر څه ترینه زخمـــی‌زخمی راوځی

وړی می دروح‌جنازه چیر ته دخندا په اوږو
په وینو سره دی پری شینکـــی شینکی خا لونه نه شی.»(۱۰)

او شاعر دټولنی تو لواړخو نوته متوجه وی .شاعر په هر څه کـــی بنکلالټوی ،مینه لټوی اوانسانـــی‌ژوند او سایل په همدغه معیار پوره شاعر دی. هغه دحسن لیو نـــــی‌دی‌که دحسن له پاره داور لمبو ته هم‌پروت وی .خو بیا هم داسوال کوی‌چی‌وینبی می نه کړی .

ستادنظر دلمبو سیوری تـــــه لږ خوب کومه
ستادی په خپل حسن قسم وی‌جانه وینبی‌می نه کړی

دحسن او بنکلاسره مینه بـــه هرانسان سره وی خودشا عـــــر په‌زړه کی دغه مینه ډیره زیاتـــه ده. شاعر یه هرڅه کی حســـــن لټوی .حسن اوبنکلا بیانوی اودهری‌ورځی په تیریدو سره دغه مینه او دغه دبنکلا بیان دشاعر زړه مجبـوروی چی دحسن پاچاهی ومنی . پـــه هرڅه کی حسن لټول په هر څـــه کی بنکلا لټول دشاعرپه شاعرانـــه ترکیبونو ژوره اغیزه کوی .دشاعـردلوړخیال اوبیان اندازه هم دهغـــه دحسن اوبنکلاسره‌دمینی نه بنکاریږی.

ته ژوند یی دگلو نو دگلشـــن‌بنکلا په تاده
سبابه په تابنکلی وی دنـــــن‌بنکلاپه تاده

زما په تایو ازی دا غر یـــــب‌زړه پاچانه دی
قسم په ټول وطن دټول وطـــن‌بنکلا په تاده ...«۱۱»

درحمت شاه سایل غزلیزه‌شاعری‌هم‌زمون دمعا صر غزل بنـــــــی

اولوړی نمونی دی .هغه پـــــه غزل کی دوخت عمده او اساســـی مسایل په ډیر هنری شکل بیـــان کړی دی. اودغزل په زاړه شکـــل کی یی نوی غوښتنی او نوی مفاهیـم بیان کړی . اوغزل یی په خپـــل معاصر مفهوم سره ډیر زیات ښکلی کړی او پیاوړی کړی دی.دهغـــه په شاعری کی دپښتو دمعاصـــــرغزل شهکارو نه لیدلی شو. دهغـه په شاعری کی که نظمو نه قطعی اونوی شعرونه زیات لیدلی شو نوپه دی ډول دهغه غزلیزه شاعـــــری هم ډیره زیاته دپام وړده .هغه دادب په هر ضف کی دښې تجر بـــــی خاونددی .غزل یی دنظم نه او نظـم یی دغزل نه ډیر ښکلی دی سایـــل غزلیزه شاعری ځانته خوند اورنګ لری. هغه په غزل کی دچادشوند و،دګل او بلبل ،دچا دستر گـــــو بنوذکر نه کوی ،بلکه هغـــــــه په غزل کی معاصر موضوعات غواړی چی بیان کړی .او دپښتو دځینـــو شاعرا نو غوندی سایل هم دپښتـــو دمعاصر غزل لمن ته پراختیـــــــاورکړی ده. هغه په غزل کـــــی دمینی ښکلا، اخلاق ،فلسفه دژونـد پیښی روایات ټول یوځای کـــړی دی او دایی دخپل غزل موضو عـا ت گرځولی دی درحمت شاه سایـــل ډغزلیزی شاعری په باب یـــــو ه پوه لیکی :

«په کوموژبو کی چی دغـــــزل رواج شته په هغو کی صرف پښتو یوه داسی ژبه ده چی غزل یـــــی ژوندی غزل دی .دنورو ژبوغزلو نه صرف دغزلوقبرونه پاتی دی.دهغوی غزل دژوند نه با الکل خا لـــــی ښکاری .او دائکه چی غـــــز ل دکلیوالی ژوندسره سمون لـــری. اودغه ژبی ښارو نو ته منتقـــــل شوی زمامطلب دی چی شا عـــری یی قطعی ښاری شاعری شـــوه .اوښاری شاعری کی خونظم ښه ویلی شی .ولی دغزل له پاره هغه ماحول ساز گارنه وی .ددی په مقـــابل کی دپښتو شاعری جړی لا اوس هم په زمکه کی دی .دغه وجـــه ده چی ددی پالنه او روز نه با الکـــل په فطری اندازکی کیږی .او داهـــم ددغه فطر ی انداز برکت دی چـــی نن زمونږ پښتو غزل ته دشلمـــی صدی ددی اخری دور صحیـــــح نمایده غزل ویلی شو.او بیـــاد شلمی صدی ددغه غزل نماینده شاعرزما په خیال کی رحمت شاه سا یـــل ده. دزلفو رخسار خبری چی کوی .نوپه لاشعور کی یی دتیاری اورنـا احساس هم موجود وی .چـــــــی دګل خبره کوی نودا غزی اغـــزی ماحول په حواله یی کوی .دسایـــل غزل دپښتو دناوی نکریزی دی .خـو

دانکریزی په اسانه نه‌دی راغلـــی، چی، دده فکر او احساس تکید لـــی دی. اوړه شوی دی. په اوښکو لونـدشوی‌دی. واغږلی شوی دی نوهلـه تری دادومره ښایسته رنګ راوتـی‌دی.» «۱۲»

دسایل غزلیزه شاعری خـــوږه‌اوله رنګینی ډکه ده. هغه په غزل کی ټول معاصر مفاهم په نازکـــه‌او لطیفه ژبه بیانوی سایل په‌غزل کی‌حسن ښکلا اومینه داسی یوځا ی‌کړی دی چی دهغه دغزل رنـــګ او مقبو لیت یی لاپسی زیـــــات‌کړی ذی. دسایل دغزل په هکلـــه یو بل پوه لیکی:

«داهغه شاعر دی چی دغـــز لدناوی ورایی دتورتم په لور ورځو ځولی ده، چی‌ددی تورو تیارو لمـن‌دابدله پاره ورټو له کړی .دی‌نـه یوازی دپښتو دملی او زانرهریـــی‌اوزانو کی لوی لاس لری، اودپښتو داوسنی شعر ریښتنی استازی دی. بلکی هغه شیان چی دچاپیر یـــال اوماحول دنادودو دستور مـــا ت‌کړی هغه شان دخپلو افکـــارو دبیان له پاره دشعر کالبو نه هـــم‌مات‌کړی او دی ماتو نی‌نوی دنیـا رامځته کړی .» (۱۳)

دسایل غزل دپښتو دننګ‌اوغیرت،دکور او کلی ، ددیری حجـــری دتنګ او تکور او دشاعر دژو بلـواحساساتو یوه ډیره ښه هتـــداره بللی شو. دهغه غزل جدا رنـــګ‌اودبیان جدا انداز لری .یوشا عـر درحمت شاه سایل دغزل په هکلـه لیکی:

«دسایل په غزل کی چـــــی‌کومه خبره‌ډیره واضحه‌ښکاری هغه داده چی دده غزل با الکل ځانلـــه دی.او خپل یو منفرد انداز لـــری. په دغه حواله زه‌سایل مثالی شاعرګنم اکثر شاعران دچاتقلیدخو کوی . یادچااثرپری وی .او ډیر لوی لو ی‌شاعران هم ددی نه بچ نه دی‌پاتـی زموږ په دور کی صرف دوه کسـان‌زه ګنم چی خپل مثال په خپلـــه دی. یو خاطر اوبل سایل .دسایـــل‌انداز دسایل الفاظ دسایل تشبهـات مطلب داچی دده دغزل روح‌باالکـــل‌یومبرا طرز لری . زه په خپلـــه داخبره هیڅ سپکاوی نه ګنم چـــی‌زه اکثر سایل ته پسخیږم وایم چـی کاش مادده غوندی غزل و یلـــی‌شوی .» «۱۴»

په لنډ ډول ویلی شو چـــــی‌دسایل په غزل کی دهغـــــــه ارمان ،مفکوره خیال ،احســـا س‌اودهغه هیله په ډاګه لید لـــی

شو.هغه ز موږ دو خـــــــــت‌ډ یری لو یی خبـــــــــــر ی غټ غټ الفاظ ډیـــــــــــر ی‌درنی درنی خبری او درانـــــــه تکی په ډیر خوږوالی سره بیانوی.دغزل په ژبه یی بیانوی .دښایست اوفن په ژبه .هغه په غزل کـــی‌داسی مسایل بیانوی چی بـــــــل شاعر یی نه شی بیانو لی .

چرته چی دچاوی قومیت غلا م هلته خامخا وی محبت غـــلام
زه ننګ پښتو لرم غیر لـــرم نه شم زه‌کیدلی دقسمت غلام

دی دی آواز ته کوم‌زنځیردتینګی دی نه یم زه غلام‌نه می ملت غلام
ځکه دی یقین په آزادی زمـــا نه یم پیدا کړی زه قدرت‌غلام
څوچی وی موجود نظام دزور اوزر دی کی به وی تل انسانیت‌غلام
مینه ای غریب زړګیه مه کـــوه دلته کی دی حسن ددو لت غلا م
«۱۵»

او دا دهغه دغزلیزی‌شا عری‌بله بیلګه ده چی وایی :

هرګل په وینو سوردی‌ګلستـا ن‌په وینو سور دی
احساس لکه شهید دهر انسان په وینو سور دی

قربان ددی سماج‌له سندریـزی‌ار تقا نـــــه
زما په کی لاها غسی‌ګریـوان په وینو سور دی
«۱٦»

خوددی تولو سره سره‌سایـــــل‌دیوه ژوند ی‌ضمیرځښتن دی .دهغه زړه دخپل وطن په مینه‌په سینـــه کی‌توپو نه وهی ،هغه دخپلـــــی خاوری خپل وطن او خپل اولـــــس‌سره مینه لری .او په دی باورلری چی زما خلك زما اولس او زمـــا تولنه به ددی بد بختیو نه راوز ی او دا ظلم او ستم تیاری‌به رنا‌کیږی‌او دا ظلمونه،نا خوالی او نابرابری به ختمیږی . ځکه چی هغه دخپـــل‌اولس په روا او عادلانه مبـــارز وایمان لری .او دغه تول مسایـــل‌اودغه خپل لوړ او انسانی ارمان په خپل شعر کی بیانوی :

تمبل غږیږی
دورخو ودیږی

په ټول وطن کـــی
نغمی خور یږی
زور اوبه کیږی
ظلم بو گیږی
جرس ټنکیږ
مړه بیدار یږی
سپی ټول غپیږی
کاروان تیر یږی
چی سر تری کټ شـــــــــی ژوند د هغوی
انقلاب راغی و خـــــــــت په سلگو دی ۱۷۰۰۰

لکه څو مره چی د سا یل او دهغه غزل ښکلی دی نو په دی ډول دهغه دشا عری او د هغـــــــــــه

دغزل په هکله خبری به هم لـه ښایست او ښکلا نه ډکی وی. دسایل غزلیزه شاعری او په مجموع کی دهغه ټوله شاعری زموږ دمعا صر شعری بهیر یو رنگین اوله ښایســـــــت نه ډك څپر کی دی . دهغـــــــــه غزل نمونه وی ښایست او ښکـــلا لری. دهغه شاعری دپښتو پـــــه معاصر شعری بهیر کی نمونه وی مقام لری او دهغه شاعری نمونـــه و ی شاعری ده. دهغه شاعری زموږ دمعاصر وادبیاتو دسمندر هغه قیمـــت بهـا مرغلری دی .چی ارو مرو به یـــــی لوستو نکی سیل او نداری تـــــه تم کیږی ضرور به پری ډیـــــر ی خبری کیږی او ضرور به پری ډیـر څه لیکل کیږی .

دسایل شاعری تش دزړه بـراس نه دی ،تشی خبری نه دی. بلکـــی دهغه شا عر ی د هر پښتون شاعری ده. دهغه په شاعری کی دهر پښتون څیره په خنداده .دهغه شاعری دهرچاشاعری ده دنراوښځی په خولـــه شاعری . او چی تر څو دا دنیـا وی. پښتون اولس وی نودسایل شاعـری د شعـــر هـــر بیـــت هـــره خبـــــره او هره کلمـــــــه به دهغه داولس ارمان اودهغه دخلکو دخلاصون چغه وی. دهغه په شعـر

اودهغه په فن به هم پښتونازیږ ی‌اوهم پښتون اولس .ځکه چې دهغه شاعری دپښتو داوسنی شعری بهیر یوه پیاوړی‌او ستره برخه ده. دسایل دژوند او دهغه دشاعری‌په هکله ډیری خبری کیدلی شی ډیرخه پری لیکل کیدلی شی.خوزه به یوازی دومره ووایم چې دپښتو ژبه خوش قسمته ده‌چې‌دسایل غوندی ناز کخیاله ،خوږ ژبی او اور ژبی شاعر لری .اوپښتو،له پاره ډیری‌خوشحا لی ځای دی‌چې نن سبا داستاد امیر حمزه شینواری،غنی خان غنی ، خاطر اپر یدی، قلندر مومند او رحمت شاه‌سایل‌اوداسی ډیر په خاوره او وطن‌مین شاعران لری. چې هریویی په خپل ځای کی‌دزیاتی ستا ینی وړدی. دهریوه شاعری او آثار ځانګړی‌خصوصیات لری .او په هریوه باید فخر وشی ،هر یوباید ونازول‌شی‌اوهر یو باید وستایل شی.دسایل دژوند او هغه دعلمی او ادبی‌کار ونو په هکله که په‌همدغو خبرو بسنه وکړو لازمه ده .چې‌ددغه منتخب په هکله هم څویادونی وکړم.

«دنظر غشی»دپښتوژبی ددغه نامتوشاعر دشعر ونو یو منتخب دی‌چې ستا سی په وړا ندی دی.دغه ماله څووجونه راټول تر تیب اوچاپ ته تیار کړو. په لومړ ی‌قدم کی درحمت شاه سایل شعری آثار دلته ډیر کم پیدا کیږی .ددی له پاره چې دپښتوژبی‌ددغه لوی شاعر له ژوند او شعری آثا روخخه زموږ ځوانان‌خبر شی نودغه منتخب راټول او چاپ ته تیار شو .دوهمه خبره ددغه منتخب‌دجوړیدوله پاره زما خپله شخصی مینه وه‌چې‌مادسایل دشعر او دهغه دژوند سره لرله. دغی مینی زه دی ته وهڅولم چې دهغه ددوو شعری مجموعو نه دغه منتخب ترتیب‌اوچاپ ته تیار کړم.. ماپه دغه منتخب کی یوازی دسایل ددووچاپی‌مجموعو «دویر وپه چم کی وارد نغمودی ، اودلمبو په‌سیوری »څخه شعرو نه را اخیستی دی.که څه هم دسایل هرنظم‌هر غزل ، هره څلور یزه او هربیت دانتخاب وړدی. خو څرنګه چې‌سایل ځوان دی اودهغه دشاعری سفر ډیر اوږدی اوزموږ امیدو نه ورته ډیږدی.اوهغه به په راتلونکی

کی دډیر و مجمو عو شاعر شـــــی اودهغه دشعر ونو کلیات به چـــاپ شی. نو په دی خاطراوس لازمه ده چې په همدغه وړوکی منتخب اکتفاوکړو. زه دسایل ددغه منتخب په هکلـــــه نوری خپلی خبری نه اوږدوم .داتاسی اودا هم دسایل دشاعری یـــــوه منتخبه ډالی .

بس همدومره
په شا عرانه مینه
افضل تګور
۶۷ـ ٤ ـ ۱٦

پایلیکونه

۱ـ خُلنده ستوری ، اخونزاده فرمانشاه مسافر ،۱۹۸٤ عیسوی کال پیښور چاپ ۳۱٤ مخ ښاغلی رحمت شاه سایل
۲ـ همدغه اثر همدغه مخ .
۳ـ دویر په چم کی واردنغمودی، درحمت شاه سایل دشعرو نو مجموعه ۱۹۷۸ عیسوی کال چاپ لسم اویولسم مخونه .
٤ـ دلمبو په سیوری .دسایل دشعرونو مجموعه د۱۹۸٤ عیسوی کال دپیښور چاپ .
٥ـ دخیبر ادب ،مراد شینواری.۱۹٥۸ عیسوی کال دپیښور چاپ ۱٦ مخ .
٦ـ دویر په چم کی وار دنغمودی ، یاد شوی اثر ۱۰۸ مخ .
۷ـ دلمبو په سیوری ،یاد شوی اثر۱۱٥ مخ .
۸ـ پښتو مجله ، پیښور پښتو اکیډیمی ۱۹۸۳ عیسوی کال ، یولسمه گڼه ، ښاغلی ایوب صابر ،«دفهم دل راهی »مقاله ۳۲ مخ .
۹ـ دلمبو په سیوری ، یاد شوی اثر۱۲ مخ .
۱۰ـ دویر په چم کی وارد نغمودی، یاد شوی اثر ٥۸ مخ .
۱۱ـ دلمبو په سیوری ،یاد شوی اثر،۲٥ مخ .
۱۲ـ همدغه اثر دسعدا له جان برق مقدمه نهم ،اولسم مخونه .
۱۳ـ دننگونو شاعر ،دمقا لومجموعه ،دقومونو او قبا یلو دوزارت دنشراتو دریاست چاپ ،دپوهنیار لطیف بهاند مقاله ،۱۰۲، ۱۰۳ مخونه .
۱٤ـ دلمبو په سیوری یاد شوی اثر دبرق مقدمه ۸،۷ مخونه .
۱٥ـ دویر په چم کی وارد نغمودی یاد شوی اثر ۲٤ مخ .
۱٦ـ همدغه اثر ۱٥مخ .
۱۷ـ همدغه اثر ۱٦ مخ .

سور لمر

هغه دی سورلمر په راختو دی
صبر لوګی شو انتظار اور شو

احساس لمبه شـــو روح سوی سکور شـــو
شعور پر هر شـــو اسو یلی شور شـــو
ژوندون زخمی شـــو زړ ګی ټکور شـــو

هغه دی سور لمر په را ختو دی
انقلاب راغی وخت په سلګـودی

په ګر مو و ینـــو ژر ندی تا ویـــږی
مستی ځوا نـــی دی په کی د لیـــږ ی
ننګ په ځوانـــی د ی جذ بی مستیـــږ ی
د نیا و را نیـــږ ی که پاتی کیـــږ ی
فیصله کیـــږ ی هر څه چی کیـــږ ی

دویړپه چم کی وارد نغمو د ی
انقلاب راغی وخت په سلګودی

تمبل غږ یـــږ ی در خوو د یـــږ ی
په ټول وطن کـــی نغمی خور یـــږ ی
زور او به کیـــږی ظلم بو ګنـــیږ ی
جر س ټینګیـــږ ی مړه بیدار یـــږ ی
سپی ټول غپیـــږی کا روان تیر یـــږ ی

چی سر تری کټ کـــړی ژو ند د هغـــو دی ـ
ا نقلا پ را غـــی و خت پـــه سلګودی

بیا کربنی دعذاب جـــــوړی په مخ دستمگـــــــــر دی
بیا زلفی دتیرو جـــــــوړی وژ لو تـــــــــه دلمر دی
بیاوخت ایښی چړی دلیـــــونتوب پـــــــه رهگذر دی
بیا ستر گی غضبنا کـــــــی تیر ی شوی دخنجـــــــر دی
شپیلی د انقلاب تـــــــــه پوکی ور کړه اسرا فیلـــــــه
بیا ما تی زو لنی دمـــــــړهوس په شر نگهـــــــر دی
بیا ناست هغـــه استـــازی د قاتل زندان په ســـــردی
بیـــــا ستر گی د پستـــــوسړی خورو نظر نظـــــر دی
بیا خند و خار دلارو گـــــلاب مخی جا دو گـــــــــردی
شپیلی د انقلا ب تـــــــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــــه

ته چر ته یی ملګر یـــــه زررا پاځه هلـــــه ورکه
ستا ځلی اخر چر تـــــه دی غصه شه لته ور کـــه
یاغی کـــــار وان روان دی‌د با غیا نو دلښـــــکردی
ملك ټول حسن ناصر، حســن ناصر ، حسن‌نا صر کـــه
شپیلی د انقلا ب تـــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
نن هم هغه دسر ســـــودا ګری هغـــه بـازاردی
نن هم هغه ستم دی هغـــه راج دی هغـــه ښـــاردی
نن‌هم هغه محل هغـــــه قاضی هغه کتـــاب دی
نن هم هغه تـــــرل اوپرا نستل هغه روز ګـــاردی
شپیلی دا نقلاب تـــــه پوکی ور کړه اسرا فیلـــه
دژوند ریګزاره ځمکـــــه لا باران دو ینو غـــواړی
بی وسه نظرو نه چرا غـــا ن‌دو ینو غـــــو اړ ی
دا لوړ لوړمحلو نه بنـــدشو نه د فکرو نـــــو
یو جړق دز لز لی غـــواړ ی‌طو فان دو ینو غـــواړی
شپیلی د انقلا ب تـــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
ستا وینه زما نه نـــــه شی هیڅکله پټو لـــــی
دازمکه ستا په سرو وینـــوسور لاس نه شی خوړ لـــی
هډو کی دپو لادو دی‌ســـامراج نه شی ز غملـــــی
ته ژوند یی ، نه شـــــی‌تا نه شی‌هیڅوك نشـــی‌وژلی
شپیلی د انقلا ب تـــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
ستاهر ځا ځکی د وینـــی په کروړ و نو زړونـــوداغ دی
ستا ژوند ددی نړی پـــــه انسانی فکر ونـــو داغ دی

ستا زړه راته بلا نیازبیـــن ځلمی کړه لیو نی کـــــړه
ستا نوم دتودو شګو پـــــه لا له ګلونـــــــوداغ دی
شپیلی د انقلا ب تـــــــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
دستا دزړه داور بڅـــــر ی نن لمبه لمبـــــــــه دی
خبری ستا دفکر د ګلشـــــن لمبه لمبـــــــــه د ی
جذبو دی د زلمو پـــــــــه ارادو او ر لګو لـــــــی
بی وسه انسا نـــــــا ن د ټول وطن لمبه لمبـــه دی
شپیلی د انقلا ب تـــــــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
او ورکه پو کی ور کـــــه چی قیا مت شی اسرا فیلـــه
چی خوږ دزهر ګـــــو ټ انسا نیت شی اسرا فیلـــه
ددی قاتل نظام د پـــــاره دا فیصله و کـــــــړه
ددغه رنځ علاج په بغـاوت شـــی ا سر ا فیلـــــــه
شپیلی د انقلا ب تـــــــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه
یو داسی انقلاب چـــــی ددی زوړ نظام قا تل شـــــــی
یو دا سی بغا وت چی تـــری په مرګ کی ژو ند حاصل شی
یو داسی انقلاب چی یی سحـر په وینو سور شـــــــی
یو دا سی بغاوت چـــــی د سامراج راج یی قایل شـــی
شپیلی د انقلا ب تـــــــــه پو کی ور کړه اسرا فیلـــه

PROPERTY OF ACKU 9963

څه په هو ښیارو ستـــــرګوو اوړیدی نا دان زړ ګیه
څو مره ارزان دی را نـــــه غواړی په ما ګران زړ ګیـــه

نه څوکډ یدن تـــــــه اود چا در ته راو بلمـــــــه
زه خو لرمه نه مکـــــا نڼه لا مکان زړ ګیـــــــه

زه چی دژو ند په کومـــــه لاره با ندی تگ کو مـــــه
هلته په هر گام هـــــره‌ساه دی امتحان زړ گیـــــه
په وچو شو ند و که پـــــه مستو خو مارو اننگـــــــو
سپر لی‌دی راشی خـــــودچا په گلستان زړ گیـــــه
دا بی خودی ده کـــــــه هوس دی که د عشق انتهـــا
گوره ته خپل قاتل ته هـــم‌وا یی جانان زړ گیـــــه
داچی د ژوند دیقین شـــات‌هم در ته زهر ښکـــــا ری
خوب رنځور کړی یـــــــی‌دو هم او گومان زړ گیـــــه
څوك د خپل فکر پـــــــه وطن کی غلامی نه کـــــوی
دننگ دتخت د پا ســـــه کښینه شه سلطان زړ گیـــه
چی دی سایل در قیبا نـــــوپه کو څه تیـــــــــروی
کانی به هم گنی دســـــر وگلو بارا ن زړ گیـــــــه



ستا که تسلسل د ستمـــــونو ماتیدی نه شـــــــی
پام ر قیبه ! دا تـــــر ونډزړو نوماتیدی نه شـــــی

زه زلمی زړه لـــــــــر م‌په فکر کی مستـــــــی لرم
چاوی چی قا نـــــــــو نډځنځیر و نو ماتیدی نـه شی

زه پښتون پیدا یمه ،پښتو ن به یم ، پښتون به مـــــرم

دغه اینه په فر یبـــــــونوماتیدی نه شـــــــی

تږی دی دزړه دو طـــــــن ټول او لس می تـــــږی دی

تنده می سیند غـــــــوا ړ ی په جامو نو ماتیدی نه شـــی

سر ه شی لیو نـــــــــوزور ور بی دزوره نه تښتـــی

خو له داستعمار پـــــــه فریا دو نو ما تیدی نه شـــی

ژبه می ده کړی ســـــــوداګره چی پښتون ګتـــــم

دی کی ده پښتو پـــــــه دو لتو نو ماتیدی نه شـــی

مور دا نا الحق مجر مـــــا نمورږه لیو نی د ژو نـــــد

دا دسر نشی مو پـــــــه دار و نو ماتیدی نه شـــی

دا زما قلم دیو مجبـــــــوردیو سا یل قلـــــــم

دا دزر پر ستـــــو پـــــه لا سو نو ما تیدی نه شـــی

زما دتړمو و ینـــــــــوجام و ا خلـــــــــــه
راشه دنو ی ژونـــــــــدپیغا م وا خلـــــــــــه

د ژو ند پـــــــــــه لا ره‌که ز ما سر ه ځـــــــــــی
په لمبو پښی کیـــــــــد ه‌او گا م وا خلـــــــــــه

ستا په نظر کی مـــــــی پښتو و لیـــــــــد ه

را شه دا خـــــــــــوږزړه می انعام وا خلـــــــه

په خو لی می مهـــــــــــردی ویلی نه شـــــــــم

په ستر گو ستـــــــــــرگو کی سلام وا خلـــــــه

لږ خو ته هـــــــــــمزما د مینی پـــــــــه سر

گیډی گلو نـــــــــــه دا لزا م وا خلـــــــــه

ملاکه زه دی کـــــــــږ م کا فر نو خیـــــــــــردی

خود یار نوم پـــــــــــه احترا م وا خلـــــــــه

نن یی په ستر گـــــــــوکی بس دو مـــــــره ووی

دسحر زیر ی پـــــــــه ما بنام وا خلـــــــــه

سایله ! گـــــــــــل دی چری و نه ر یـــــــــژی

بو سه تری وا خلـــــــــه خو په پام وا خلـــــــه

نن دمینی په وطـــــن کی د دیدن گرا نه گرا نـــی ده
څه داو ښکو قدر نه شتـــه څه دوینو ارزا ئـــــی ده

کومه پرخه ده چـــی ژاړی هغه کوم گل دی چی خانـدی
په ژړا هم پا بندی ده پـــه خندا هم پا بنـــــــدی ده

د ګلو نو سند رغـــــا ړوسپر لی خیا لو شا عرا نـــو
راشی ګیره په لمبو کـــــی‌دسپر لی مسته ځوا نـــی‌ده
چرته لاړی ای د زلفو پـــه تالو نو ز نګیدو نکـــــــو
نن په زلفو دصنم کـــــی‌دبارود و خو شبو یـــــی ده
داحساس د ګل په شو نـــډودا ور سری سکر وتی ږدمـه
دغه لوبه د هـــــوس ده، بهانه می مجبـــــــوری ده
چی دځان د غمـــــــــه زاړم د ظا لم دمخه خا نـــد م
څه خو دی چی مـــــــــی‌ددا سی ستمګر سره یـاری‌ده
چی په خوږ زړه مـــــــــی‌انبار دی در د او غم دغم‌زپلو
ما غریب‌مه ګنی خلکـــــــودا می لو یه با چا یـــــی‌ده
هلته وینی څنبل حلال دی‌دلتـه او ښکی څنبل حـــــــرام دی
هلته هغه زند ګـــــــی ده‌دلته دغه زنده ګـــــــی ده

زما په دوارو او رونـــــاستو پر بنتو و لیکـــــــی
زما په سر که څه لیکـــــی‌نو په پښتو و لیکـــــــی
د پا کی مینی کنهگـــــا روچی منکر پری نه شـــــی
در قیبا نوالزا مو نـــــــه په تندو و لیکـــــــی

په ښایستو نو پســـــــــی‌ور کولیو نو ملګـــــــــرو
زما په زړه کی دګـــــــــل‌مینه په اغز و لیکـــــــــی
زما په لاسو کی پـــــــــــه پښو کی دیو تا ګا نو دوخـت
د زنده ګی نوم دا جـــــــل‌په زو لنو و لیکـــــــــی
د ځنځیر و نو خـــــــــــالقا نو : دو حشت زامنـــــــو
ما په قطار کـــــــــــی‌دژوندون د لیو نو و لیکـــی
ای شا عرا نـــــــــــو :د قلم په آزادی مینـــــــو
حال د بلو چـــــــــــوما شو مانو د سلګو ولیکـــی
د آزادی عا لـــــــــم‌برداروډ نړی قا مو نـــــــــو
اوس دنړی نقشـــــــــــه کی‌کو ر د پښتنـــــــــو ولیکی

دا یو زه نه یم چـــــی ژاړم‌د سندرو پـــه و طن کـــی
که نه ! دا یـــــو روا ج‌دی د نهرو په وطن کـــــی
ژوندی چر ته ځوك شته کـــه نه چی لږ تپوس تری وکـــړم
داولی خا مو شـــــــی ده‌دخبرو په وطن کـــــــی

ای حسنه : د یار گل نـــــه شی زما د عشق په طمـــــع
عشق نه کیږی د ژو نـــــددسو دا گرو په وطن کـــــی
آزاد می نه گړو ځـــــانډزر پر سنو له روا جـــــه
دا گل ځوانی مـــــی خاوری‌کړه دزرو په وطن کـــــی
فکرو نه لیو نی می را تـــــه هیڅ بی هیڅه وژ نـــــی
پیدا یمه دد اســـــــــی‌ستمگرو په و طن کـــــی
څه زده کړم د بنگلـــــــود رو ا یا تو نه ملگـــــرو
زه او سم دجو نگـــــــړ واو کنډ رو په وطن کـــــی
زه یار ته‌کتی نه شمـــــــه یار ما ته کتی نه شـــــی
ړانده گر ځو دو خـــــــت‌دجادو گرو په وطن کـــــی
په زړه دایشیا کـــــی لادمر گ په خوب ویده یـــــم
دا حال دی دبی و ســـــــودا نشو رو په وطـــــن کی
ما فال دمینی . و کـــــو ت‌دنجوم په سیپا روکـــــی
لـــــــوی قحط را روا نډ دلبر و په وطـــــن کی
ښایست لری‌بد نام بـــــه وی بندی به وی سا یلـــــه
یو سف‌دپښتنو د بـــــــی‌نظر و په وطن کـــــی



پری به وزی خوده پـــــــه سجدو پر یو تل زده نه کړل
دی کنهګا ر سر زمـــــــــازره تتبیدل زده نـــــه کړل

سنر ګی که مو ډیری مسلسل‌شو ګیر و ستړی کـــــــړی
مور دچا د زلفو پـــــــــه تالونو زنګل زده نه کـــــړل

دلته معزز شی چـــــــی باغی دخپل ضمیره شـــــی
موږه ځان دښمنـــــــــــوخپل ضمیرخرڅول زده نه کړل
تیښته یی ګنهم د زما نـــــی د روا یا تو نـــــــــه
ځکه می لمنی نه یـــــــوداغ پا کول زده نه کـــړل
زانګی چی پری تل زمـــــاد فکر زر غو نـــــی غو تی
ماد هغه داره خپل نظـــــراړول زده نه کـــــــړل
ماته ملا ! ځا نتـــــــــه د تسکین مسئله و ګـــوره
ماخو دجنت پـــــه حورو زړه‌غو لول زده نـــه کـــړل
خلکو دټرون د ذو قـــــــه د یری مزی وا خیستـــــــی
موږه رقیب خیلو بیـــــــل بیل زړو نه ټرل زده‌نه کـــړل
تنده چی سا یلـــــــه !کړی‌سړه د چا دوزیت احســـاس
تا دچا ګلر نګ پـــــــه اداګا نو لیکل زده نـــــه کړل



دا خیر دی که څـــــو ګما غوندی بدنام په کا نو ولی
خودا عجیبه خلك هر نیـــك‌نام په کا نو ولـــــــی
دا ستا په‌مست نظـــــرکی‌دا د چادی پری پو هیـــږم
پو هیږم چی د پا کـــــــی‌مینی قام په کانو ولـــــی

مرګ څه وی ولی کـــــا ش‌چی په دی مړه معاشره کـــی
دو هم لیو نی د ژو نـــــدپیغام په کا نو ولـــــــی
په کوم لوری می بیا یـــــی‌ای زما مجنو نه عشقـــــه
چی داد کلی خلك می هـــــرګام په کا نو ولـــــــی
ښا یست که څه مقـــــا م‌لری خو دا اعجاز دعشـــق‌دی
د او لی ښکلی خلـــــــك‌خپل مقام په کا نو ولـــــی
زمور دمینه مستو لیـــــــونو لاری چی نیســـــــــی
نا کامه ر قیبـــــــــان دی‌خپل انجام په کا نو ولـــــی

چی په خندا ورته دخـــــو ږوږه پر هرو نه نه شـــــی
چری دی هم ستا دښایســـــت غوتی گلو نه نه شـــــی

را شه مظلوم ژو نـــــد مـی په یو نظر یوه لمبه کـــــړه
چی په ظالم زړ گی دی پا تـــی ار ما نو نه نه شـــــــی

بیا دجنون ځوا نی مستـــــی غواړی دمستی مینـــــــی
بیا چر ته خیال د تـــــور وزلفو ځنځیر و نه نه شـــــی
په دعا ګانو می د خـــــو ړاحسا س درد ونه نه ځـــی
څو چی ښیری د شـــــــونډ و تړم ټکو رو نه نه شـی
وړی می د روح جنـــــا زه‌چر ته د خندا پـــــه اوږو
په وینو سره‌دی پړی شینکـی‌شینکی خا لو نه نه شـــی
دنظر غشی د زړ ګی پـــــه چم په پـــــــا م وروه
چرته زخمی په کی داستـــانازك یا دو نه نه شـــــی
خامو شی شو ئډی مـــــــی‌لوستی بیدار یدی و یل یـی
او رونه مه چیړه لو ګـــــی‌دی پری فکرو نه نه شـــی
ویده دنیا ای د سا یـــــل‌قلمه مه لـــــــــړ ز وه
د فر یادی او ښکومـــــا ت‌ستو ری تند رو نه نه شـی



په خپله ړو ند یمـــــــه د تورو په نظر گر ځمـــــه
ځکه خو تږی تل پـــــــه سر د سمندر گر ځمـــــــه

ستا دنظر په دو مـــــــر ه لوی جا گیر وطن کی آشنـــا
زه دو طن خانه بـــــدو ش یم در په در گر ځمـــــه

دژو ند جنت می داحســـاس بندی خا نه شوه را تـــــه
درقیبا نو د صـــــــرا طد پل په سر گر ځمـــــــه

څومره سپیره یم بیـــــــامی ختی دثواب شوی خـــوراك
د آزادی اسلام آبـــــــا دښار کی نهر گر ځمـــــه

دتوری لوی شپی نیـــــــتلا امر یکنی غو ندی شـــــو
زه څه نادان یم چـــــــی په طمع دسحر گر ځمـــــه

دمړو په څلو کی دخپـــــلژو ندون لټون کو مـــــه
په غر او سم پـــــــه لراوبراو ترا وتر گر ځمـــــه

حالات لګیا دی لګـــــو ی‌می په فطرت چکو نـــــه
زه لګومه په خپل خـــــو ارسپیره قسمت چکو نـــــه

د لیو نتوب علاج تـــــه ګوری لیو نو ملګـــــــرو
چی لګوم په ځنځیـــــــرونو هر ساعت چکو نـــــه

آشنا که یو رقیب ســـــرو خوری بل به هم پیدا شـــی
لګول غواړی په سبـــــق‌در قا بت چکو نـــــه

نیت یی معلوم دی بـــــس‌زما دیو نظره تنـــــګ دی
ځکه می داسی لګـــــــوی‌مو سم په نیت چکو نـــــه

بیا می آشنا دلیو نـــــوچغو نه ولی تښتـــــــی
چی لګو ی می پـــــــه شعور ستا نزا کت چکو نـــه

جانانه ! ووا یه سا یـــــل‌کومه ګناه کـــــــړی ده
داسی خو نه لګـــــــو ی‌څوك په محبت چکو نـــــه



شو نږی گنډم په نـــــو مړ یار پا بندی و لګیـــــــده
د خوږی مینی پـــــــــه اظهار پا بند ی و لګیـــــــــده

په ژبو وه خودا پـــــــــه ظلم با ندی ظلم و شـــــــو
چی مو دستر گو پـــــــــه تکرار پا بندی و لګیـــــــده



رواج د دار چی دمنصـــو رنسل ډیر وز یـــــبراوه
چی په دار و نه شـــو ه‌په دار پا بندی و لگیـــده

دمینی دی دستو ر تـــــه څه نوم ور کو لی شی څـوك
هم په اقرار هم پـــــه انکار پا بندی و لگیـــده

گل چی ښایسته د خار پـــه مرسته شو زما په وینـــو
دظلم حد گوری پـــــه خار پا بندی و لگیـــده

لږی دا کر ښـــــی دجانان د تندی هم ولو لـــه
زړ گیه ! بس پـــــه انتظار پا بندی و لگیـــده

او س به دگل سنـــد ر ی‌چا له ای سا یله لیکـــو
د بلبلا نو په چغـــارپا بندی و لگیـــده



چی په کی قحط ستا دیـــــد نشی اوردی پوری شی پـــــری
که دا دنیا باغ عدن شـــــی‌اور دی پوری شی پـــــری

چی ستا غنچی غنچی سری‌شوندی په کی نه وینمـــــــه
که هره لار گلشـــــن‌شی اوردی پوری شی پـــــری

چې‌ستا دا دوه ستر ګـــــې‌له مانه پناه کیږی په کـــی
که می جنت هم‌خپل وطـــــن‌شی اور دی پوری شی پـــری
چې په کی نه وی مـــــړ ه‌نشه ستا د دی مړ او کتـــو
جوړ که دښکلو انجمـــــــن‌شی اور دی پوری شی پـــری
چې نن په غم وی پـــــــه سبا کی نه وی خوند دسبـــا
چې نن سبا شی سبانـــــــن‌شی اور دی پوری شی پـــری
چې دی څوك او ښکـــــــی‌دکنجکو په نرخ هم نه تلـــی
که مر غلری د یمن شـــــی‌اور دی پوری شی پـــــری
سا یله بدنه دی دژو نـــــددا زادی فکر و نـــــــه
خو چې په مینه دی قد غـــن‌شی اور دی پوری شی پـــری

چر ته چی د چـــــــاوی قو میت غـــــــلام
هلته خا مخـــــــا وی‌محبت غـــــــلا م
مینه ای غر یـــــــب‌زړ گیه مه کـــــــوه
دلته کی دی حســـــــن‌د دو لت غـــــــلام
زه ننگ او پښتـــــــولرم همـــــــت لر م
نه شم زه کیـــــــدلی د قسمـــــــت غلام
څو چی‌وی مو جـــــــود نـــــــظا م د زور او زر
دی کی بـــــــه وی‌تل انسا نیـــــــت غلا م
څکه د ی یقیـــــــن په آزادی ز مـــــــا
نه یم پیـــــــد اکړی‌زه قـــــــدرت غلا م
دی آواز تـــــــه کوم‌ځنځیر د ټینگـــــــی دی
نه یم زه غلا م نـــــــه می ملـــــــت غـــلا م

بس دا که د لیمو نـــــه تر جبینه ز نده گـــــی ده
